ولی محمد نورزی ۲۰۱۱/۰۵/۰۶

# او ساما بن لادن

د ترهګرو د سر مشر لوي رهبر شیخ تیروریست بــن لادن ولاړي
د افغان اولس پر خاوره د جګړي پرسر او لیکه لوي ناورین ولاړي

په جګړو او کړ کیچـو یي زمونږ خاوره په اورونو سـره لمـبه کړه
دا بدبخته ګوره نن ښنګه د دنیا نه بی خبره بی کفنه کرغیړن ولاړي

مزدوري یـي د پردو کړه ، د جنجال په تـار تړلي ، ګو ډاګـــی وو
د غر بیانو لمړي دوست، بیا د دښمن په نامه ښنګه کبر جن ولاړي

د اسلام په تش نامه یي ګوره ښنګه، دا ګردی نړی توتـه توته کړه
د عربو نه راغـلـي د جهـاد په بهانـه لـوی ظـالـم دښـمـن ولاړي

چه کري هغه ریبي به، دا متل د اولنو دي ګوره بله لارنشته نورزیه
الـقاعده مشر نن ښنګه، بیله ګـوره د جهان نه ، خشم جن ولاړي

[[[[[[[[[ ]]]]]]]]]
[[[[[ ]]]]]
[[[ ]]]
[[]]


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ